**د مسؤلیت د رفع کولو یادښت :**دا سند په غیر رسمي شکل له یو رسمي سند څخه ژباړل شوی دی، مګر ژباړه یې د هیڅ دولتي اداري لخوا نه ده تائید شوې .کیدای شي تېوله هڅه د ژباړې د کره کولو د ډاډ لپاره شوې وي .مګر دا هم امکان لري چې د اصلي سند او ژباړې ترمنځ د کلماتو په ټاکلوکې نواقص یا توپیرونه موجود وي

**د افغانستان اسلامي امارت**

**ستره محکمه**

**د دارالانشاء عمومي ریاست**

**د تحریر اتو آمریت**

**د متحدالمآل څانګه**

**د متحدالمآل شمېره: ۴۲**

**نېټه: ۱۴۴۴/۷/۱۵ هـ ق**

---

**د افغانستان اسلامي امارت د تمیزونو، دیو انونو، مر افعه او ابتدائیه محکمو ریاستونو محترمو منسوبینو ته!**

السلام علیکم ورحمة الله و برکاته

و بعد: د افغانستان اسلامي امارت محکمو کې لیدل کېږي کله چې یوه دوسیه د ابتدائیه محکمې فیصلې وروسته استیناف محکمې ته استول کېږي او د استیناف فیصلې وروسته تمیز ته استول کېږي، ځینې محکمې د دوسیو د استولو پر مهال د دوسیې پاڼې په دقت سره نه ګوري او د مرسل الیه مرجعې په لیکلو کې هم دقت نه کوي. دوسیه د یوې مرجعې اړونده وي او د پاکټ د پاسه د بلې مرجعې نوم لیکل شوی وي. یاده موضوع د سترې محکمې د عالي شورا محترم مقام د ۱۴۴۴/۶/۵ هـ ق نېټې جلسه کې مطرح شوه. د عالي شورا محترم مقام د (۱۷ مې) ګڼې تصویب په ترڅ کې په دې اړه لارښوونه وکړه چې پښتو ژباړه[1] یې په لاندې ډول ده:

((ټولې محکمې مکلفې دي چې د دوسیو د استولو پر مهال ټولې پاڼې په دقت سره حساب کړي او تعداد یې په مکتوب کې ولیکي او همدارنګه مُرسِل او مُرسَل الیه په پوره دقت سره وټاکي.))

او همدارنګه د فیصلې د ځنډېدو د مخنیوي په هکله، د عالي شورا محترم مقام په پورته یاده جلسه کې د ۱۴۴۴/۶/۵ هـ ق نېټې د (۱۹ مې) ګڼې تصویب په ترڅ کې لارښوونه وکړه چې پښتو ژباړه[2] یې په لاندې ډول ده:

((کله چې د اسلامي امارت محکمو کې کومه فیصله په ځنډ سره صادره شي، اړونده محکمه دې په دې صورت کې د فیصلې د ځنډ علت په یوه مکتوب کې سترې محکمې ته واستوي او د یاد مکتوب یو نقل دې له فیصلې سره یوځای د دوسیې پاڼو سره ضمیمه کړي.))

بناءً د سترې محکمې د عالي شورا د محترم مقام پورتنۍ لارښوونې د دې متحدالمآل په ذریعه د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې اړونده د تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو ریاستونو ته واستول شوې تر څو د هغې په رڼا کې شرعي او اصولي کړنې ترسره شي.

**په درناوي**

(لاسلیک)

**مفتي عبدالرشید "سعید"**

**د دارالانشاء عمومي رئیس**

**ستره محکمه**

(مهر)

---

[1] د ژباړن یادښت: په اصلي متن کې "ترجمه دری" لیکل شوی. داسې برېښي چې دا متن له پښتو څخه دري ته ژباړل شوی دی.

[2] د ژباړن یادښت: په اصلي متن کې "ترجمه دری" لیکل شوی. داسې برېښي چې دا متن له پښتو څخه دري ته ژباړل شوی دی.

دا سند د حقوقو د پراختیا نړیوال سازمان (IDLO)په واسطه د افغانستان د قانون د حاکمیت څارونکي ویبپاڼه (ARLO)پروژې لپاره ژباړل شوی دی .د ARLOپه اړه د نورو مالوماتو ترلاسه کولو لپاره مهرباني وکړئ زمونږ ویبپاڼې www.arlo.onlineته لاړ شئ .